سیرت

د پیر سیف الرحمٰن

معدن د علم او عرفان

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

په دے کتاب کښے په تخمینه شوي غلطي او د هغي اصلاح

صفحه	کرښه	غلط	صحیح	صفحه	کرښه	غلط	صحیح
۲۰	۵	دی	دي	۱۰۳	۸	والاحم	والاحمر
۲۹	۸	وجوهیهم	وجوههم	۱۰۴	۵	گنبي	گني
۲۹	۱۴	غبضی	غبطی	۱۰۴	۹ ۱۰	اهر حلقت	امر حلفت
۴۵	۶	خای	خدای	۱۰۵	۹	یحیی؟	یحیی
۵۰	۵	یي	بی	۱۰۶	۱۰	عهنده لایسمی	عنده لایسعنی
۵۱	۱۸	می	یي	۱۰۸	۱۳	خس	خنس
۵۲	۴	تهمیل	تحمید	۱۱۱	۱	تقلیه	لقلبه
۵۵	۸	ذواق مواجد	الذواق ومواجید	۱۱۲	۱۲	مونثم موند	مونثن مونثن
۵۶	۸	خدای بر ډیر ویری	خدای د ډیر ویریږي	۱۱۴	۷۰	یادشا	بادشاه
۶۴	۲	قریبهم	قربهم	۱۱۷	۱۰	هغی	صفحي
۶۸	۵	قلتفنت	فلتفت	۱۱۹	۴	دوستی اهل الضوالة	رسی اهل الضلالة
۶۹	۵	اعفاء	اعضاء	۱۲۲	۱۸	بعد قیم	بعدکم
۷۰	۵	انه	الله	۱۲۳	۳	علی انتصرو	علی الفقش
۷۰	۱۰	استناد	استیناد	۱۲۷	۶	ماسقعهم	ماسمتهم
۷۲	۴	القاسی	القاری	۱۲۸	۱۴	علی النناس	علی النّاس
۷۵	۱۳	طریف	طریق	۱۲۹	۱۴	لمزاهم	نزاهم
۷۵	۱۷	گردند نهد	گردن نهند	۱۳۳	۹	جدله	جدلا
۷۶	۱۳	اجتمیاع	اجتماعی	۱۳۷	۱۴	دهدته	ده ته
۸۱	۷	خبس	جنس	۳۷	۸	تبل مور	بل ماموں
۹۵	۳	لایعتدون	لایهتدون	۱۳۸	۱۰	یکی	کښي
۹۶	۴	بارد	بادروا	۱۴۷	۶	الحق وسمت	الخلق والسمت

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم:	سیرت د پیر سیف الرحمن
مصنف:	حضرت العلامه الحاج خواجه محمدحضرت
کمپوز:	محمد فهیم عاطف
ناشر:	سلطان اینډ محمد فهیم عاطف جنرل پبلشر – قصه خوانی بازار – ۰۳۰۲-۸۸۱۹۰۸۹
بیه:	۵۰ روپۍ.

د ترلاسه کولو ځای

مکتبه دارالاحناف – اخون لمبر ۲

فهرست

صفات المؤمنين ---------- ۱
لمونځ ---------- ۸
زکات ---------- ۹
خشيت او خشوع ---------- ۵۶
هغه وعدې چې اهل خشيت او اهل خشوع سره شوې دي ---------- ۵۹
د اهل خشيت او اهل خشوع نښانې او علامات ---------- ۶۳
د صحبت اثرات ---------- ۷۲
فراست ---------- ۷۴
کشف ---------- ۷۷
الهام ---------- ۸۰
وارثين او کامل تابعين به رښتيني خوبونه ګوري ---------- ۸۲
کرامات ---------- ۸۵
په مؤمنانو پورې مسخرې ---------- ۸۷
د اخر زمان د خلکو يوه هينداره ---------- ۹۳
غافلينو ته قراني وعيدونه ---------- ۱۱۴
د جني او انسي شيطان نه ډيخ ګېډو دوه لارې دي ---------- ۱۱۵
تفرقه د امت د هلاکت سبب دی ---------- ۱۱۶
اخري پيغام ---------- ۱۳۱

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على رسوله محمد و على اله و اصحابه اجمعين. اما بعد:

د آدم عليه الصلوة والسلام نه را په دې خوا تر دې وخته پورې د نيکانو او بدانو مقابله روانه ده، نيکان د ديني مسؤليت په بنا او د خداى جل جلاله مخلوق ته د نجات لپاره د بدانو باطل عقايد او اعمال تشريح کوي او بدان هم د دوى خلاف قسم قسم تهمتونه لګوي عوام خلک څوک د نيکانو تابعدار او څوک د بدانو ښکار شي. په همدې قسم د امتحان لړۍ روانه وي الله تعالى په لاندينيو آيتونو کې همدې خبرې طرف ته ارشاد فرمايلى دى:

(مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلٰى مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ)

(سورة آل عمران آيت: ۱۷۹).

(ترجمه: هيڅ کله به خداى پرې نږدي مؤمنان په هغه حال چې تاسو يئ په هغې باندې تر هغه پورې چې جدا کړي ناپاک له پاک نه).

(الٓمّٓ ۝ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ ۝ وَلَقَدْ فَتَنَّا

(ترجمه: آيا ګومان وکړو خلکو چې پرې به ښودلى شي دوى په دې

«الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ ۝ (سورة عنكبوت آيت: ۱، ۲، ۳)».

خبره چې وايي دوی مونږ ايمان راوړو او په دوی باندې به ازميښت ونه کړی شي او خامخا ازميښت کړی و مونږ په هغه کسانو چې مخکې له دوی نه و او خامخا به جدا کړي خدای هغه کسانولره چې رښتيا ووايي او همدا رنګه دروغجن هم،

«لَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنَافِقِينَ ۝ (سورة عنكبوت آيت: ۱۱)».

«ترجمه: خامخا به خدای مؤمنان او منافقين ښکاره کړي»

«حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ قَالَ: حَدَّثَنِي كَثِيرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَوْفِ بْنِ زَيْدِ بْنِ مِلْحَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ الدِّينَ لَيَأْرِزُ إِلَى الْحِجَازِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا، وَلَيَعْقِلَنَّ الدِّينُ مِنَ الْحِجَازِ مَعْقِلَ الْأُرْوِيَّةِ مِنْ رَأْسِ الْجَبَلِ، إِنَّ الدِّينَ بَدَأَ غَرِيبًا وَيَرْجِعُ غَرِيبًا، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ الَّذِينَ يُصْلِحُونَ مَا أَفْسَدَ النَّاسُ مِنْ بَعْدِي مِنْ سُنَّتِي (مشكاة شريف، صفحه ۲۳، ۱۱)».

يعنې نبي عليه السلام فرمايلي دي چې ددين شروع شوی دی غريب او بېرته به غريب شي نو خوشحالي ده هغه غريبانو ته چې اصلاح کوي هغه څه چې فاسد کړه، وي خلکو زما نه وروسته زما د سنتو د جملې

Scanned by CamScanner

یادګیرنه: بیعت د نبي علیه الصلوة والسلام شروع په ټولو زمانو کې د نیکانو سره بیعتونه کېدل وروستو ورته د شرک او بدعت نوم کېښودو.

د پورتنیو آیتونو نه دا واضحه شوه، چې په ټولو زمانو کې همدا کشمکش او مقابله تېره شوې خو د پورتني حدیث او نور احادیثو په بنا اوس په دې مقابله کې تېزوالی راغلی دی، ځکه د دین د غربت لپاره دا ضرور ده چې اهل د دین غریب شي او اهل د دین په تېرو ټولو زمانو کې حقاني اهل سنت والجماعت علمایې کرام او کامل پیرانو. په څلورو طریقو کې وه چې د دوی په ذریعه او لارښودنه عالمونه رشد او هدایت ته رسېدلي دي، نو د اسلام دشمنانو خپلو طوطیانو ته په خولو کې د همدې صاحبانو خلاف د تهمت سازیو پروپګنډه اچولې او قلمونه یې هم په دې طرف تېز کړي دي او خبره دې ته نږدې شوې چې اصلي غل د کور خاوند جوړ شي او د کور خاوند د غله په تهمت د کور نه وشړي، د اهل السنت والجماعت مذهبي علماوو او کاملو پیرانو مبارکانو باندې د شرک، کفر او بدعت ټاپې لګول کېږي او اکثر عوام مسلمانانو باندې د دوی وعظ او نصیحت اثر نه لري، نو ځکه د دین د نوي دعویدارو په جال کې ونه نښلي، زما وس نسته، چې د ټولو کاملو پیرانو کارنامې ولیکم، ځکه مخکې زمانه کې د دوی متعلق لوی کتابونه لیکل شوي دي، همدا رنګه د حقاني علمایې کرامو متعلق هم کتابونه شته زه صرف ددغه زمانې د یو کامل پیر حضرت خواجه سیف الرحمن رحمة الله علیه په باره کې خپل معلومات وړاندې کوم، ځکه د زمانې د اکثرو بې دینو ژبې او قلمونه د دوی په طرف کاږه دي

Scanned by CamScanner

په ژوند کې لا څه چې پس د مرګه هم د دوی پسې په تهمتونو مړ یږي.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ۝ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ۝ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا ۚ لَّهُمْ دَرَجَاتٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ۝ (سورة الانفال آيت: ۲، ۳، ۴)

(ترجمه: بېشکه چې مؤمنان هغه کسان دي، چې هر کله ورته یاد کړی شي خدای، نو ووېرېږي زړونه د دوی او کوم وخت چې ولوستلی شي په دوی باندې آیتونه د خدای نو قوي کړي هغه آیتونه ایمان د دوی او په پروردګار خپل توکل کوي هغه کسان چې ودروي لمونځ او له هغه څه نه چې ورکړي دي دوی ته خیرات کوي دوی په حقه مؤمنان دي د دوی مرتبې په نزد پروردګار د دی او بخښنه او ښه روزي ده.

طسٓ ۚ تِلْكَ آيَاتُ الْقُرْآنِ وَكِتَابٍ مُّبِينٍ ۝ هُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ۝ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ۝ (سورة النحل: ۱، ۲، ۳)

(ترجمه: دا آیتونه د قرآن او د کتاب روښانه دي هدایت او زېری دی لپاره د مسلمانانو هغه کسانو چې ودروي لمونځ او ورکړي زکات او دوی په آخرت یقین کوي.

الٓمٓ ۝ تِلْكَ آيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ۝ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝ (سورة لقمان آيت: ۱، ۲، ۳، ۴)

ترجمه: دا آيتونه د كتاب حكمت والا دي، هدايت او رحمت دي لپاره د نيكانو هغه كسانو چې ودروي لمونځ او وركوي زكات او دوى په آخرت يقين لري دا ډله په هدايت ده چې راغلى د پروردگار د دوى نه او دا ډله همدوى دي خلاصي موندونكي.

وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ عَلٰى مَآ اَصَابَهُمْ وَالْمُقِيْمِي الصَّلٰوةِ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝ (سورت حج آيت: ۳۴، ۳۵)

ترجمه: او زيرى وركړه زاري كوونكو ته هغه كسانو ته چې هر كله ياد كړى شي خداى، نو ووېرېږي زړونه د دوى او صبر كوونكو ته په هغه څه چې ورسېږي دوى ته او ودرونكو د مانځه ته او له هغه څه نه چې مونږ روزي وركړې ده دوى ته خرچ كوي.

په پاسنيو ذكر شويو دوه آيتونو كې د كامل مؤمن صفت صابر ليكل شوى.

Scanned by CamScanner

حضرت اخون زاده سیف الرحمن رحمة الله تعالی علیه ډېر نهایتي صابر انسان و، یوه ورځ د حضرت په صحبت کې ناست وو یو سړی راغلو چې هغه وویل چې قربان پښې مې خوږېږي دعا راته وکړه حضرت مبارک ورته خپلې پښې ښکاره کړې چې د ګرمۍ په موسم کې درې جرابې په پښو کړې وې هغه سړي ته یې وویل دا مې د ډول نه نه دي په پښو کړي، بلکې پښو کې مې درد دی بیا هغه ته د امتحانونو او صبر باره کې ډېره تسلي ورکړه او ډېرې کیسې ورته وکړې بیا ما عرض وکړو چې «نزهة المجالس» کې مې لیدلي دي. چې امام شافعي رحمة الله علیه دېرش بیمارۍ لرلې هغه مبارک وفرمایل که زه درته خپلې بیمارۍ شمار کړم د دېرشو نه به ډېر شي او چې زه څومره خلکو زورولی یم هغه بیا ددې نه سخت دي خو ددې ټولو تکلیفونو سره بیا هم هغه مبارک تر او تازه معلومېدو تا به ویل چې هیڅ غم او درد به نه لري، حضرت مبارک به فرمایل چې دارچې ۳۰ جریبه ځمکه او ابادي رانه پاتې شوه د هغې نه الله تعالی په باره کې ښه راکړه، او چې باره کې ۳۰ جریبه ځمکه او درې کروړه ابادي رانه پاتې شوه د هغې نه لاهور کې الله تعالی ښه ځای راکړو، یعنې بې صبري او فریاد پر ځای به یې د خولې نه د شکر الفاظ اورېدل کېدل.

په پورتنیو آیتونو کې د کامل مؤمن یو صفت دا ښودل شوی دی، چې تلاوت د قرآن کریم به کوي نو حضرت اخون زاده سیف الرحمن رحمة الله علیه به روزانه درې سپارې د قرآن عظیم الشان تلاوت کولو ددې نه علاوه د تفاسیرو او کتابونو لیدل یې ډېر خوښ وو خاصتاً تفسیر حسیني سره یې ډېره مینه وه ما فقیر ته یې هم د تفسیر حسیني

Scanned by CamScanner

په مطالعه کولو امر کړی و او فرمایل چې د تفسیر حسیني مصنف په قبر باندې ډېر فیوضات او برکات نازلېده.

«وَالَّذِينَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا (سورت رعد آیت: ۲۲، ۲۳)»

«ترجمه: هغه کسان چې صبر کوي لپاره د لټولو د رضا د رب او ودروي لمونځ او خرچ کوي له هغه څه چې مونږ روزي ورکړې دوی ته په پټه او په ښکاره او دفع کوي په نیکۍ سره بدي دا ډله دوی لره ده جزا د هغه سرایې باغونه د همېشه اوسېدلو داخلېږي به دوی دغه باغونو ته».

«إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَنْ تَبُورَ ۝ لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ إِنَّهُ غَفُورٌ شَكُورٌ ۝ (سورت فاطر آیت: ۲۹، ۳۰)»

«ترجمه: څوک چې لولي کتاب او سم کوي لمونځ او خرچ کوي هغه چې مونږ ورکړي په پټه او په ښکاره امېدوار دي چې دوی لپاره به یکې زیان نه وي. لپاره ددې چې پوره ورکړي دوی ته ثواب د دوی او زیات ورکړي د خپل فضل نه په تحقیق هغه دی بخښونکی او قدردان».

پورتنیو آیتونو کې چې کوم وضاحت ذکر شوی دی لکه لمونځ ، زکات ، تلاوت ، خوف او وحشت په آخرت یقین او صبر او توکل شو دا په پخوانیو او اوسنیو کاملو پیرانو مبارکانو او حقاني علمایې کرامو کې موجود و او دی د مشت نمونه خروار په شکل ، د خپل پیر او مرشد خواجه سیف الرحمن رحمة الله علیه حالات به تاسې ته عرض کړم بیا انصاف ستاسو دی چې څرنګه حکم کوئ:

لمونځ: حضرا خون زاده سیف الرحمن داسې لمونځ ګذار و چې پخپل ۴۸ کلن عمر کې تر اوسه بل داسې څوک نه دي لیدلي زما پخپل دېرش کاله ورسره ناسته ولاړه او صحبتونه شوي په دومره موده کې مې صرف یو ځل لیدلی چې د ماخوستن جماعت ترې نه ترک شوی هغه هم د حج نه راغلی و ډېر ستومانه او بې خوبه وو کور کې ویلي و چې ما ویښ کړئ جماعت ته لیکن چا غږ نه وو کړی ۱۲ بجې راووتو د جماعت په قضا کېدو ډېر خپه شو او د عمر په آخیرني لس کالو کې په سایکل کې پنځه وخته جماعت ته راوستی دی او په همدغه کمزوري حالت کې د سبا او مازیګر فرض تقدیري وختونه په مسجد کې تېر کړي دي او د اشراق لمونځ او ختم خواجه ګان یې په مسجد کې کړی او په محفل ذکر او نعت خوانی کې به اکثر پخپله موجود و.

همدا رنګه صلوة ضحی او تهجد یې هم بې عذره نه دي ترک کړي او داسې کامل لمونځ به یې کولو چې ترک د مستحبو به هم ترې نه صادرېدو او مریدانو ته به یې هم د پوره لمانځه تاکید کولو تر دې پورې چې دده مبارک خوا کې به څوک نه درېدو ، ځکه دوی به بیا په

ترک سنتو یا مستحبو تهدیدونو اکثر به نوي خلک درېدل، روژه مبارکه کې به يې دوه ځلې د قرآن عظیم الشان ختم کولو او سنت رواتب به يې نه ترک کول همدا رنګه تحية المسجد او تحية الوضوء تاکیداً ادا کول.

زکات: لکه د لمانځه په شان د زکات ادا کولو کې يې انتها محکم و یو ځل يې ما فقیر ته لس کتابونه راکړل او ويې فرمایل چې دا زکات کې قبول کړه ما عرض وکړو چې ما باندې زکات نه کېږي، زه غني یم هغه وفرماییل تا سره څومره روپۍ دي ما ووېل اته زره کالداري دي هغه ووېل چې حیدري صاحب وايي چې د افغانستان د سترې محکمې فیصله کړې چې دې وختونو کې د لسو زرو کالدارو نه پره غني دی ما ورته عرض وکړو ما حساب کړی چې په اته زرو کالدارې وي سړی غني کېږي، هغه مبارک چې زما ذوق ته ولیدل نو مسکی شو او ويې فرمایل زه خیراتي يې واخله حضرت خالد رحمة الله علیه د مبارک صاحب یو پخوانی خلیفه دی هغه فرمايي چې یو ځلې ما رخصت اخیستو هغه مبارک وفرمایل ته مه ځه لږ ودرېږه! زه کور کې کتاب ګورم که د زکات پیسې راسره پاتې وي تاته يې راوړم چې لږ ساعت معطل شوم مبارک صاحب راووتلو او ويې فرمایل چې ما کتاب ولیدو د درې راتلونکو کلو زکات يې هم ورکړی دی، دده مبارک اکثر مریدان نقیران وو، حضرت مبارک رحمة الله علیه به ورباندې زکاتونه ویشل، همدا رنګه وجوبي صدقات لکه صدقه فطر یا قرباني شوه په پوره احتیاط سره ادا کول تر دې پورې چې یو کالې حضرت مبارک صاحب رحمة الله تعالی علیه سل قربانۍ کړې وې او دا يې د رسول الله صلی الله

Scanned by CamScanner

عليه وسلم د هغه سنتو د ژوندي كولو په نيت كړي وي كوم چې هغه مبارک د حج په موقع سل اوښان قرباني كړي وو او د شلو پورې قرباني هر كال د دوی په خاندان كې كېږي . لكه څرنګه په فرضي وجوبي، سنتي صدقاتو كې مرنې و، همدا رنګه نفلي صدقات يې هم د زمانې د هر منكر اوليا نه زيات و. د سل شا و خوا د دوی خپل خاندان وو همدومره اندازه لس دولس كوره ګاونډيان او يو پنځوس مريدان او طالبان او همدومره ميلمانه په هره ورځ درې وخته موجود وو او د جمعې په شپه او ورځ كې به د ميلمنو شمېر تر پنځه سوه پورې هم رسېده او په عرس او ميلاد شريف كې پنځه زره پورې رسېده، ددې ټولو د روټۍ، اوبو او نورو ضرورياتو انتظام به په ډېر ښه طريقه كېدو. په ذكر شويو آيتونو كې دوه ځايه د كامل ايمان والا صفت و جل ذكر شوی (وجلت قلوبهم) من هيبت الجلال و تصور عظمت المولى الذى لايزال وهذا الخوف لازم لاهل كمال الايمان سواء كان ملكاً مقرباً او نبياً مرسلاً او مؤمناً تقياً وهذا بخلاف خوف العقاب فانه لا يحصل بمجرد ذكرالله بل بملاحظة المعصية و ذكر عقاب الله انتقاماً. (تفسير روح البيان، ج ٣ صفحه ٢١٣).

دې تفسير وجل معنی داسې كړې، چې د هغه الله جل جلاله، چې همېشه دی لوی او جلال يې په تصور كې راشي د هغه د هيبت په وج كې په زړه كې وېره راشي او دغه د كامل ايمان والاوو سره لازمي ده كه هغه ملايكه مقربه يا نبي مرسل او يا مؤمن پرهېزګار او نيک كردار وي ، دا بخلاف د وېرې د عقاب ده، څكه خوف د عقاب په مجرد ذكرالله

Scanned by CamScanner

نه حاصلیږي، بلکې بملاحظې دګناه و ذکر د عقاب الله پیدا کیږي، چې انتقاماً د مجرمینو نـه اخیستل کیږي. خلاصه دا چې د کاملینو ویرې ته وجل د مجرمینو ویرې ته خوف ویل کیږي، همدا صفت هم الحمدلله زمونږ د مرشدد مبارک حضرت خواجه سیف الرحمن رحمة الله علیه او د هغوی په اکثر مریدانو کې په ښکاره سره لیدل کیږي تاسو که مثلاً د پولیسو یو افسر سره کښېنئ او یو مجرم راوستلای شي او هغه ته متوجه شئ نو ددغه مجرم حالت د نورو خلکو په شان نه وي اندامونه به یې لړزیږي، پوستکی به یې ریږیږي او د عاجزۍ، پرېشانۍ او ژړا حالت بـه یـې وي. همدغـه حالـت د سیفیانو حضـراتو د ذکـر، تلاوت او لمونځ وخت کې وي او همدغه حال دوی تـه د خپـل صاحب د صحبت او توجه نه حاصل شوی.

خلورم صفت د کامل ایمان خاوندانو دا بیان شوی، چې د تـلاوت د قرآن کریم سره ایمان قوي کیږي. همدې تفسیر روح البیان په ۳ جلد صفحه ۲۱۲ کې لیکلي دي: «در حقایق مذکور است که ببرکت تلاوت نـور یقین در باطن ایشان ظاهر گردد و زیادتی طاعت به ظاهر ایشان هویدا شود و در بحر الحقایق فرموده که ایمان حقیقی نوری است که بقدر سعت روزنـه دل در وی می تابد چون قرآن بر ارباب قلوب خوانند روزنه دل ایشـان ببرکـت قرات گشاده و نور ایمان بیشتر در وی افتد پـس در نـور جمـال مستغرق گردند» اګر چې دا هم یو باطني صفت دی د زړه لیکن څاته چې حیات قلبي نصیب وي هغوی د ایمان په ضعف او قوت پوهیږي، څکه چې د چا په زړه کې چې ایمان قوي وي نو ددغه زړه د انوارو انعکاس مقابل زړه ته کیږي خو هلته چې دغه مقابل زړه کې استعداد انعکاس ددغه

Scanned by CamScanner

انوارو وي او کوم زړه کې چې کبر بدعت، بدګوماني، بې محبتي او بې ادبي موجود وي هغه ددغه فیض او انعکاس نه محروم وي.
نو د سورت یاسین، سورت ملک، سورت عمه یتساءلون، د تلاوت په موقع به د حضرت اخونزاده صاحب مبارکه نه مریدانو د خپل خپل استعداد موافق احساس کولو او هم د دوی د ایمان د قوت په وجه دوی لا څه چې په لکونه مریدانو ظاهري او باطني اصلاح وشوه.

پنځم صفت د حقیقي مؤمن توکل ذکر شوی دی چې دا هم معنوي او قلبي صفت دی لیکن د مرشد مبارک یو څو قیصې ذکر کوم د هغې نه د دوی د توکل پته لګېږي یوه ورځ یې وفرمایل، چې زما ډېر د مسکنت وخت وو ما خپل زوی حیدري صاحب ته پیسې ورکړې چې په دې باندې درې ډېرې نرۍ وریجې راوړه هغه لاړو د ورو یوه بوجۍ یې راوړه ما ورته ویل دا چا درکړل هغه وویل ما وریجې اخیستې کلې ته چې راغلم بل دکاندار راته پوښتنه وکړه ما ورته وویل نرۍ وریجې دي هغه ویل ستاسو غریبي ماته معلومه ده او میلمانه هم ډېر دي دا وریجې راکړه بعوض به وړه درکړم چې یو ورځ خرچه خو مو وشي مبارک رحمة الله علیه وفرمایل چې ما حیدري صاحب ته وویل چې ستا نه یې هم نه غواړم او دکاندار ته ووایه چې ستا نه یې هم نه قرض غواړم نه خیرات وړه مې ورباندې واپس کړل بل د میا محمد نوازشریف په مخکني دور حکومت کې یو څو میاشتې د وړو قحط جوړ شوی و. په هره بنادی کې چې به دوه کسان سره یو ځای شول د وړو نه غېر بله هیڅ قیصه به نه کېدله.

Scanned by CamScanner

غریبان او کم زمینه څه چې ډېر غټ زمیندار هم ورخطا و د پېښور په څېر و زو کلي کې حاجي صاحب بنات ۱۵۰ جریبه ځمکه لري هغه راته وویل چې په ډېرو ورېژو خوړلو مې خېټه خوږېږي ما سره تر ټولو نه ډېر فکر د خپل مرشد مبارک وو چې هغوته روزانه د زرو کسانو روټي ورپه غاړه ده خو چې کله هلته لاړم غیر د ذکر فکر نه مې بل هېڅ واته ورېدل او نه په لنګر کې څه کمي محسوس شو.

قال الله تعالى: ﴿وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ﴾ (سورت الطلاق، ۳) الله تعالى فرمايلي: ركه د چا په الله تعالى توكل وو همدغه الله تعالى ورته كافي دی.

قال عليه السلام: «لو أنكم تتوكلون على الله حق توكله، لرزقكم كما يرزق الطير» نبي عليه السلام فرمايلي دي، كه چېرې تاسې په الله تعالى حقيقي توكل وكړئ، د مارغه په شان رزق به دركړي.

تفسير روح البيان په ج ۱۰ صفحه ۳۲ د پاسني آيت او حديث په تفسير كې ليكلي دي: «واما الذين قعدوا عن الحركة والكسب وهم الكمل فطريقتهم صعبة لا يسلكها كل احد ما عدا ق الدين ودل الحديث المذكور على ان التوكل الحقيقي اي لا يرجع المتوكل الى رزق معين وعلى آمر موقف كالطير حتى لا ينتقض التوكل»

يعني كوم خلك چې ناست دي د كسب او حركت نه همدا اوليا دي نو طريقه د دوی سخته ده نشي تلای هر سست په دين كې او دلالت دد ذكر شوي حديث هم همدارنګې دی څکه چې حقيقي توكل كې جرع

نه کوي متوکل رزق معین او غذا موظفې ته په شان د مارغه تر څو توکل یې مات نه شي.

په پورتنیو ذکر شویو دوه آیتونو کې ذکر شوه، چې کامل مؤمن به په آخرت ایمان لري، د حضرت اخونزاده سیف الرحمن رحمة الله تعالی علیه پورتنیو ذکر شویو نیکیانو نه واضحه ده چې دا ټولې د آخرت د ایمان او یقین په قوت شوي دي، ځکه الله تعالی په دې آیتونو کې فرمایلي دي:

﴿وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَوٰةِ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ ۝ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَاقُوا رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ۝﴾ (سورت البقرة: ۴۵، ۴۶)

ترجمه: مدت وغواړي په صبر او په لمانځه او بېشکه لمونځ خامخا درond وي مگر په عاجزي کوونکو هغوی چې پوهېږي په دې چې دوی به ملاقات کوي د خپل پروردگار سره او دوی به په طرف د هغه ته ور گرځي.

پورتني آیت نه معلومه شوه چې د چا په الله تعالی او په آخرت ایمان نه وي په هغه باندې لمونځ درond وي همدا رنگه ټولې نیکیانې دې، ددې نه علاوه زه د حضرت مبارک رحمة الله تعالی علیه دوه واقعات وړاندې کوم چې په آخرت باندې د قوي یقین لرلو ښکارندوی دي.

لومړۍ: مبارک سیف الرحمن رحمة الله علیه سره زر اخیستي وو چې دا به زما د مرگ نه وروسته ما پسې فدیه کوئ چې د هغې فدیې قیمت

Scanned by CamScanner

دده د وفات په وخت کې ۳۵ لکه کانداري کېدې، نو چې د چا په آخرت یقین نه وي نو دومره مال خلکو ته ولې ورکوي.

دویم: حضرت اخونزاده سیف الرحمن رحمة الله تعالی علیه د پلار نه ماشوم پاتې شوی پلار یې چې وفات شوی مېره مور یې پلار گنې بوتلې او بیا یې چاته په نکاح ورکړې او د هغې پلار گني. د دوی د ځای نه ډېره لرې وه نو تعلق قطع شوی و، چې هر کله حضرت مبارک رحمة الله علیه ته پته ولگېده د هغې مور د پیدا کېدو په تکل شو پس له ډېرو کلونو معلومه شوه چې هغه وفات شوې او د هغې د پل خاوند نه دوه لوراني ژوندی دي، تودې خزانې کې د قاري سیدغني او د هغه په ورور واده دي، حضرت مبارک سیف الرحمن رحمة الله علیه خپل موټر کې راوستې او د هغه مور میراثه یې ورته ورکړه نو د چا چې په آخرت پوخ یقین نه وي د مړو میراث نه ورکوي.

قال الله تعالی:

﴿مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَنْ يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ شَاهِدِينَ عَلَىٰ أَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ ۚ أُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ وَفِي النَّارِ هُمْ خَالِدُونَ ۝ إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ ۖ فَعَسَىٰ أُولَٰئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ ۝﴾ (سورت

ترجمه: د مشرکانو کار دا نه دی چې آباد کړي د الله تعالی جوماتونه او مني په خپلو ځانونو باندې کفر دغه خلک خراب شو د هغوی عملونه او په اور کې به وسوځېږي هغوی همېشه، هم هغه اباد وي جوماتونه د الله تعالی چې یقین یې راوړو په الله تعالی او

Scanned by CamScanner

التوبه آیت: ۱۷، ۱۸)

د آخرت په ورځ او قایم یې کړه لمونځ او ورکولو یې زکات او نه ویریدلو سوا د الله تعالی نه د هیچا نه نو امیدوار دي، دوی چې شي په هدایت موندونکو کې.

ددې آیتونو په تفسیر کې معارف القرآن لیکلي دي:

په دې آیت کې یې وفرمایل چې د جوماتونو ابادول یواځې د نیک سړي کار دی، دا هم ثابته شوه چې څوک د جوماتونو حفاظت کوي، یا صفایي یا د نورو ضروریاتو انتظام کوي یا عبادت د الله تعالی لپاره لکه ذکر، تلاوت، علم، لمونځ ته ځې راځي د هغوی دا عملونه کول ددې خبرې ګواهي ده چې کامل مؤمنان دي او مشرکان کافران د جوماتونو ابادول نشي کولی؛

د خلیفه صاحب خان محمد رحمه الله د خولې بیان دی، چې ماته ډاکټر ملي شاه صاحب فرمایلي وو چې حضرت اخونزاده صاحب سیف الرحمن رحمة الله علیه ۲۵ جوماتونه جوړ کړي دي چې دا مبارک د هغه جوماتونو د جملې نه د یو مسجد خطیب دی.

قال الله تعالی:

(وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُوا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ۝ الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ۝ (سورت

(ترجمه: هغه خلک چې هجرت یې کړی د الله لپاره وروسته له دې، چې دوی باندې ظلم شوی دوی ته به مونږ ژوند برابر کړو په دنیا کې ښکلی، د اخرت اجر بیا

النحل آيت: ۴۱، ۴۲))

ددې نـه زيـات دي، کـه دوی پوهېږي پـه دې خبـره او هغـه خلـک چې صـبر يـې وکـړو پـه مصيبتونو د هجرت باندې او پـه خپل رب باندې يې توکل وکړو او تکيه يې په الله وکړه).

ددې آيت په تفسير کې معارف القرآن په صفحه ۹۹ کې ليکلي دي، همدا خلک سوچه او پاخه مسلمانان دي په دې کې اشاره دې خبرې ته هم وشوه چې هجرت نه کوونکي مسلمان اګر چې مسلمان خو دی خو د هغوی ايمان کامل هم نه دی او يقيني هم نه دی ځکه چې هغوی منافقان هم کېدای شي.

ددې آيت په تفسير کې معارف القرآن د قرطبي په حواله ليکلي دي په صفحه ۱۰۰ د کې په دې آيتونو کې څو شرطونو سره د مهاجرينو سره دوه عظيم الشان وعدې شوې دي لومړی دا چې هم په دنيا کې به ورته ښه ټکاڼه ملاو شي دويمه دا چې آخرت کې به ورته بې حسابه لوی ثواب ورکولی شي، دنيايي ټکاڼه کې ښه روزي ملاوېدل په دشمنانو غلبه او د عزت ژوند شامل دی.

حضرت اخونزاده سيف الرحمن رحمة الله عليه ته دغه د هجرت تاج دوه ځلې ور په سر شو يو ځل د ارچي نه پېښور او بيا پېښور نه لاهور ته هجرت کول و و.

Scanned by CamScanner

قال عليه السلام المجاهد من جاهد نفسه لله عز وجل. (ترغيب صفحه ۱۸۳۰ جلد ۲)

ترجمه: مجاهد هغه دی چې نفس سره مجاهده وکړي.

(افضل الجهاد ان يجاهد الرجل نفسه و هواه) (فيض القدير صفحه ۳۰، جلد ۲)

ترجمه: افضل جهاد دادی، چې سړی د نفس او هوا سره جهاد وکړي. د کفارو او بدعتيانو او نفس او هوا سره جهاد کې پنځوس کاله تېر کړي دي د هغوی د ژرون د مجاهدې کيسې يو بل لوی کتاب غواړي.

قال الله تعالى:

(وَيَهْدِيٓ إِلَيْهِ مَنْ أَنَابَ ﴿٢٧﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ ٱللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ ٱللَّهِ تَطْمَئِنُّ ٱلْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ طُوبَىٰ لَهُمْ وَحُسْنُ مَـَٔابٍ ﴿٢٩﴾

(سورت الرعد آيت: ۲۷، ۲۸، ۲۹)

(ترجمه: او لار ښايي طرف خپل ته هغه چاته چې رجوع يې وکړه، هغه کسانو ته چې ايمان يې راوړو او چې په ارام کېږي زړونه د دوی په ياد د خدای. اګاه شه چې په ياد د خدای ارام نيسي زړونه. هغه کسانو چې ايمان يې راوړو او ويې کړل کارونه نيک ښه حالت به وي دوی لره او ښايسته واپسی د استوګنې به وي).

و تطمئن قلوبهم بذكر الله: تفسير مظهري ليکلي دي:

(فان الايمان طمانية والنفاق شك وريبة او المعنى يزول وساوس الشيطان عن قلوب المؤمنين بذكر الله قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما من

آدمي الا و لقلبه بيتان في أحدهما الملك وفي الاخر الشيطان فاذا ذكر الله خنس واذا لم يذكر الله وضع الشيطان منقاره في قلبه فوسوس له رواه ابن ابي شيبة في المصنف عن عبد الله بن شقيق ورواه البخاري تعليقا عن ابن عباس مرفوعا بلفظ الشيطان جاثم على قلب ابن آدم فاذا ذكر الله خنس واذا غفل وسوس)

فالمراد بقوله الذين امنوا و تطمئن قلوبهم بذكر الله هم الصوفية:
خلاصه ددې پورتني بيان خلاصه مطلب دادی، چې کوم زړه ذاکر وي شيطان وسوسه نشي اچولی چې غافل شي د شيطان کور او د شکونو ځای شي نو دغه اطمينان صوفيايي کرامو ته حاصل دی

تفسير روح البيان په صفحه ۲۷۲ جلد ۴ کې د (أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ) تفسير کې ليکلي دي

(قلوب المؤمنين و يستقر اليقين فيها فقلوب العوام تطمئن بالتسبيح والثناء و قلوب الخواص بحقائق الاسماء الحسنى و قلوب الاخص بمشاهدة الله ولهذا اذا تجلى الله لقلب العبد يطمئن به فينعكس نور الايمان من مراة قلبه الى نفسه فتصير النفس مطمئنة به)

خلاصه: يعنې اطمينان دادی، چې د مؤمنانو په زړونو کې يقين مستقر شي نو د عوامو زړونه په ثنا او تسبيح سره او د خواصو په حقايقو د اسماء حسنی سره او د اخص خواصو په مشاهدې د انوارو او تجلياتو د الله تعالی مطمئن کيږي.

Scanned by CamScanner

نو څکه چې تجلي وکړي الله د بنده زړه ته نو مطمئن شي نو انعکاس وکړي، دغه نور د ایمان د زړه د شیشې نه نفس ته، نو نفس پرې مطمئن وګرځي.

قال الله تعالی:

﴿وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا﴾ (سورت الاحزاب آیت: ۳۵)

ترجمه: او سړي یادونکي خدای لره دي او ښځې ډېر یادونکې خدای لره تیار کړی دی خدای دوی لپاره بخښنه او اجرت لوی.

تفسیر روح البیان په ۱۷۶، ۱۷۷ کې لیکلي دي:

(عن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم العباد افضل درجة عند الله يوم القيامة قال (الذاكرون الله كثيراً والذاكرات) قال ومن الغازي في سبيل الله، قال ولو ضرب بسيفه الكفار والمشركين حتى تنكسر او تخضب دماً لكان ذاكر الله كثيراً افضل منه درجه) والمراد من كثرة ذكره ان لا ينساه على كل حال.

خلاصه مطلب دا دی د نبي علیه السلام نه پوښتنه شوې چې کوم خلک په درجه کې افضل دي هغه مبارک فرمایلي، چې سړي او ښځې ډېر ذکر کوونکي هغه ویلي د غازي نه هم، فرمایلي یې دي هو تر دې چې په توره کافران او مشرکین ووهي او مات شي یا په وینه شي بیا هم ذاکرین ترې نه بهتر دي. او تفسیر لیکلي چې ډېر ذکر نه دا مطلب دی چې په هیڅ حال کې خدای هېر نه کړي، چې دی حضور مع الله وي

تفسیر مظهري د پورتني آیت په تفسیر کې په صفحه ۳۴۳ جلد ۷ کې لیکلي دي:

(قال البغوي قال مجاهد لا یکون العبد من الذاکرین کثیراً حتی یذکر الله قایماً و قاعداً و مضطجعاً یعنی لا یفتر ذکرهم في حین من الاحیان قلت و ذلك لا یتصور الا بعد فناء القلب والستغراق القلب في الذکر و حصول الحضور الدائم. قال رسول الله صلی الله علیه وسلم سبق المفردون قالوا وما المفردون یا رسول الله صلی الله علیه وسلم قال الذاکرون الله کثیراً والذاکرات، رواه مسلم من حدیث ابي هریرة رضي الله عنه)

یعنې امام بغوي د مجاهد نه نقل کړي، چې تر د هغې یو سړی په ډېر ذکر کوونکو کې نه شمېر کېږي تر څو چې په ولاړه ناسته او اړخ باندې ذاکر نه وي، یعنې په ذکر په وخت د اوقاتو کې ستړی نه شي، مفسر رحمه الله وایي چې دا حالت متصور کېدای نشي مګر وروسته د فنا قلبي څخه چې ذاکر د الله تعالی په ذکر کې مستغرق وي او حضور دایم ورته حاصل شوې وي، رسول علیه السلام وفرمایل مفرددون مخکې شول هغوی وویل مفردون څوک دي هغه مبارک وفرمایل ډېر ذکر کوونکي نارینه او زنانه.

(عن معاذ عن رسول الله صلی الله علیه وسلم ان رجلاً ساله فقال ای المجاهدین اجرا فقال اکثرهم الله ذکراً قال فای الصائمین اعظم اجراً قال اکثرهم الله ذکراً ثم ذکر الصلوة والزکوة والحج والصدقه کل ذلك ورسول الله صلی الله علیه وسلم یقول اکثرهم الله ذکراً فقال ابوبکر لعمر یا ابا حفص ذهب الذاکرون بکل فیه فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم اجل.)

Scanned by CamScanner

د رسول علیه الصلواة والسلام نه پوښتنه شوې کومو مجاهدینو ته لوی اجر دی، هغه مبارک وفرمایل کوم چې ډېر ذکر کوي. بیا یې ویلي کومو روژه دارو ته لوی اجر دی هغه فرمایلي کوم چې ډېر ذکر کوي بیا یې د لمانځه، ذکات، حج او صدقې باره کې پوښتنه کړې هغه مبارک فرمایلي څوک چې ډېر ذکر کوي. نو ابوبکرصدیق حضرت عمررضی الله عنهما ته فرمایلي دي چې ذاکرین د ټولو نیکانو نه مخکې دي.

نبي علیه السلام فرمایلي دي هغه، د همدې حدیث ترجمه معارف القرآن په صفحه ۳۵ جلد ۸ کې ذکر کړی لیکلي دي، چې د الله تعالی ذکر د ټولو عبادتونو اصل روح دی. د احمد په روایت د ابن کثیر نه.

«عن أبي هريرة وأبي سعيد. ولفظ الحديث بتمامه مرفوعا إن الله اصطفى من الكلام أربعاً: سبحان الله، والحمد لله، ولا إله إلا الله، والله أكبر. فمن قال: سبحان الله، كُتِبَ له عشرون حسنة، وحُطَّت عنه عشرون سيئة. ومن قال: الله أكبر. فمثل ذلك، ومن قال: لا إله إلا الله. فمثل ذلك، ومن قال: الحمد لله رب العالمين من قبل نفسه كُتِبَ له ثلاثون حسنةً، وحُطَّت عنه ثلاثون سيئة». رواه احمد وابن ابي الدنيا والنسائي واللفظ له والحاكم، وقال صحيح على شرط مسلم والبيهقي وزاد في اخره ومن اكثر ذكر الله فقد برء من النفاق. الترغيب جلد ۲، حديث شماره ۲۲۹۹

نبي علیه السلام فرمایلي دي، چې سبحان الله، الله اکبر او لا اله الاالله وواییْ د هر یو په بدل کې ورته شل نیکۍ لیکل کېږي او شل بدۍ محوه کېږي او د الحمدلله رب العالمین په ویلو سره ورته دېرش نیکۍ لیکل کېږي او دېرش بدۍ محوه کېږي او څوک چې ډېر ذکر کوي، د نفاق نه برائت مونده کوي.

Scanned by CamScanner

«وعن ابي هريرة رضي الله عنه قال. قال رسول الله صلى الله عليه وسلم جددوا ايمانكم قيل يارسول الله صلى الله عليه وسلم. وكيف نجدد ايماننا قال اكثروا من قول لا اله الا الله. الترغيب والترهيب جلد ۲، حديث شمارہ ۲۳۱۰»

نبي عليه السلام فرمايلي دي. د ايمان تجديد وكړئ ورته وويلی شو د ايمان تجديد څرنګه وکړو ويې فرمايل چې لا اله الا الله ډېر وايئ.

زمونږ مرشد مبارک حضرت خواجه سيف الرحمن رحمة الله عليه په هر حين او هر حال کې دائم الحضور او ذکر زباني نه علاوه لطائف سبعه په ذکر مشغول وو او د دوی د ذکر اثرات دومره قوي وو چې د يو لک نه زياتو مسلمانانو قلوب د دوی د توجه او صحبت په برکت حيات حاصل کړی او د پنځوسو زرو نه زيات يې خليفه ګان کړي او دا هغه څوک دي چې اووه واړه لطايفو يې حيات پيدا کړی او د نقشبنديه په مروجه طريقه په سلونو او زرګونو کرت نفي اثبات کولی شي او تخمين ډېرش زره يې داسې خلفاء دي چې نقشبنديه د نفي اثبات او ختم خواجه د اذکارو نه علاوه څوارلس زره کرت اذکار زباني د قادريه، سهرورديه او چشتيه طروقو کوي چې دا ټول د همدغه مبارک لاربنودني، ارشاد او صحبت برکات دي ددې نه علاوه ۶۲۶ کرت مسنون استغفار وايي او په دې اذکارو کې دوه زره کرت د کلمې طيبې ذکر دي، ددې نه علاوه دوه زره کرت درود شريف هم وايي.

Scanned by CamScanner

روالطبراني في الصغير والاوسط ولفظه قال، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من صلى علي واحدة صلى الله عليه عشرة ومن صلى علي عشرا صلى الله عليه مائة مرة ومن صلى علي مائة مرة كتب الله بين عينيه براءة من النفاق وبراءة من النار واسكنه الله يوم القيامة مع الشهداء. الترغيب والترهيب جلد ۲، صفحه ۳۱۱ حديث شماره ۲۳۶۵)

نبي عليه السلام فرمايلي دي څوک چې ما باندې يو كرت درود ووايي الله تعالى پرې باندې لس درودونه وايي او څوک چې لس كرت ووايي هغه باندې سل كرت درود وايي او كه څوک سل كرت درود وايي نو په تندي به ورته د نفاق او اور نه خلاصي وليكل شي او قيامت كې به شهيدانو سره اوسيږي.

قال الله تعالى:

﴿قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ (سورت آل عمران آيت: ۳۱)

ترجمه: ووايه كه چيرې تاسو دوست لرئ خداى لره پس پيروي وكړئ زما، لپاره ددې چې دوستان كړي تاسو لره الله تعالى او معاف كړي تاسو ته گناهونه ستاسو او خداى معاف كوونكى او مهربان دى.

تفسير مظهري په صفحه ۲۷ جلد ۱ كې ليكلي دي:

Scanned by CamScanner

ان المحبته سبب لاتباع الرسل والاتباع دليل على وجودها وعدمه دليل على عدمها فمن ادعى المحبة مع مخالفه سنة الرسول صلى الله عليه وسلم فهو كذاب يكذبه به كتاب الله تعالى،

ترجمه: بیشکه محبت سبب د تابعدارۍ د رسولانو دی او تابعداري دلیل په وجود د محبت دی او عدم تابعداري دلیل په نشتوالي د محبت دی نو چا چې دعو د محبت لرله سره د مخالفت د سنتو د رسول علیه السلام نو دروغ جن دی چې د الله تعالی کتاب دروغجن کوي.

معارف للقرآن د همدې آیت په تفسیر کې په صفحه ۱۴۵ جلد ۱ کې لیکلي دي:

مینه لرل داسې یو پټ څیز دی چې صرف د حالاتو او معاملاتو نه یې اندازه لګولی شي چې مینه یې شته که نشته لیږه ده که ډیره، چې ددې څه نښې نښانې کېدای شي هر کله چې دغه خلک د الله تعالی سره د مینې لرلو دعویدار و او خواهش یې لرلو چې الله تعالی دې مونږ سره مینه ولري نو الله تعالی دوی ته په آیتونو کې خپلې مینې معیار وښودلو، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څومره تابعداري په چا کې موندی شي په هماغه اندازه به ربښتینی ګڼلی شي. او چې څومره ورکې کمزوري لیدل کیږي، په هماغه اندازه به خپله دعوه کې دروغجن ګڼل کیږي

حضرت خواجه سیف الرحمن رحمة الله علیه د سنتو په ژوندي کولو کې په دې اخر زمان کې یو بې مثاله نمونه وه د سر نه تر پښو پورې په سنتو مزین او مریدان یې هم په سنتو ښایسته کړي که چیرې تاسو یوه لویه جامعه او ډیر خلک وګورئ چې سپین لباس باندې ملبس دي نو هغه به ضرور دده مبارک مریدان وي او دا ځکه چې رسول علیه

السلام فرمایلي دي، چې ښه لباس سپین دی نو تاسو یې اغوندئ هم او مړو ته کفن هم سپینې جامې نه جوړوئ او که تاسو لوی تهولی وګورئ چې پټکي یې په سر دي نو دا به هم ضرور د حضرت مبارک رحمة الله علیه مریدان وي دا ځکه چې نبي علیه السلام پټکی تړلی او صحابه کرامو ته یې هم د تړلو امر هم پرې کړی او د مسلمانانو او مشرکانو تر منځ فرق یې په پټکي سره ښودلی دی او که تاسو یوه لویه ډله وګورئ چې ټولو ږیرې په منځ دي او ږیر خریلي او لنډې ږیرې پکې نه ښکارېده نو دا به هم دده مبارک مریدان وي، ځکه دا هم د نبي علیه السلام سنت دي.

او که تاسو یو مسجد کې د ماخوستن لمونځ وکړو او هلته مو د سورت ملک تلاوت واورېدو او یا د وترو نه وروسته د خلکو نه مو سبحان الملک القدوس ذکر واورېدو نو دا خلک به هم حضرت مبارک رحمة الله علیه مریدان وي او دا ځکه رسول علیه السلام به هره شپه سورت ملک ویلی او د وترو نه وروسته به یې پاسني ذکر کولو دوه کرت به یې ورو ویلې او په درېیم کرت به یې غږ اوچتولو او اوږدولو او که تاسو یوه ټولنه ولیده چې دوه‌ی نه مخکې وروسته یې مالګه څکله نو دا به دده مبارک مریدان وي او دا ځکه چې دا هم د نبي علیه السلام د هدایاتو نه دي او که تاسو ولیدل چې یوه ډله ذاکرین ناست دي د حلقې په شکل ذکر کوي دا به هم د حضرت صاحب مبارک مریدان وي، ځکه د حلقې په شکل کښېناستل مامور به دي. همداسې د ژوند په هر اړخ کې نمونه سنتو د اظهار وه او یواځې په ځان نه، بلکې په ټولو مریدانو به عملي کول او که هر څوک به یې په هر مخالفت ولیدو فوراً به خپه کولو. حضرت روحاني صاحب رحمة الله علییه د حضرت مبارک

صاحب رحمة الله علیه یو سابقني او عزتمند خلیفه دی او خسر یې هم دی، دوی یوه ورځ وفرمایل چې مرید راغی او لس لکه روپۍ چې لس بنډلې وې حضرت مبارک ته کېښودې او وېې ویل دا لس لکه روپۍ تاسو ته راوړي هغه چې ورته وکتل پټکی پسر نه وو، مبارک دا یو یو بنډل اخیستو او دا سړي پرې ویشتو او وېې فرمایل ته ما په پیسو خوشحالوې زه په سنتو خوشحالېږم ورشه پټکی وتړه.

حضرت مبارک صاحب رحمة الله علیه یو ځلې د شیخ زاهد هسپتال کې بستر وو ډاکټره راغله سنتي لپاره خو ستن یې په چپ لاس نیولې وه مبارک په اشاره منع کړه هغه حیرانه شوه بیا مبارک په اشاره پوه کړه چې ستن په ښي لاس ونیسه، نو لکه څرنګه چې خپله مخالفت د سنتو جرم ګڼلو همدا رنګه یې بل هم منع کولو.

قال الله تعالی:

أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۝ الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ۝ لَهُمُ الْبُشْرَىٰ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ۚ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ۝ (سورت یونس آیت: ۶۲، ۶۳، ۶۴)

ترجمه: اګاه اوسه بېشکه دوستان د خدای نشته دي هیڅ ډېره په دوی او نه په غمژن شي دوی هغه کسانو چې ایمان یې راوړو او پرهېزګاري کوله دوی لره دي زېری په ژوند د دنیا کې او په آخرت کې، نشته دی بدلیدل خبرو دخدای لره هم دا کامیابي لویه ده.

Scanned by CamScanner

د ولي په تعریف کې د همدې آیت په تفسیر کې تفسیر مظهري لیکلي دي په صفحه ۳۸۵ جلد ۵ کې «الولي في اصطلاح الصوفية والمراد بهذه الاية ان شاء الله تعالى من كان قلبه مستغرقا في ذكر الله يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ ممتليا بحب الله تعالى لا يسع فيه غيره وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ فلا يحب أحدا الا لله ولا يبغض الا لله ولا يعطي الا لله ولا يمنع الا لله فهم المتحابون في الله والصوفية العلية «» يسمون هذه الصفة بفناء القلب فكان ظاهره وباطنه متحليا بتقوى يتقي نفسه عما يكرهه الله تعالى من الأعمال والأخلاق فكان نفسه منزها عن الرذائل من الشرك الجلي الخفي و غير ذلك من الاعمال والاخلاق الخبيثه متصفا محاسن الاعمال والاخلاق والصوفيه العليه يسمون هذه الصفة بفناء النفس.»

اولیا هغه خلک دي، چې زړه د هر یو مستغرق په ذکرالله سبا او بیګاه ذکرونه کوي او ستړي کیږي نه او الله تعالی د محبت نه داسې ډک وي چې بل هیڅ شی پکې نه ځاییږي اګر که پلاران، زامن، ورونه او یا خپلوان یې وي چا سره محبت نه کوي مګر د خدای لپاره او بغض نه کوي د چا سره مګر د خدای لپاره او ورکړه نه کوي مګر د خدای لپاره او منع نه کوي مګر د خدای لپاره او دوی د خدای لپاره محبت کوونکي دي او صوفیت اصطلاح دی فناې قلبي ته وایي او ظاهر او باطن یې په تقوی بښایسته وي او نفس ساتي د هغه کارونو چې د خدای خوښ نه وي که هغه اعمال او که اخلاق وي نو وي نفس یې پاک د شرک جلي او خفي او نورو اعمال او اخلاق خبیثه نه او په ښایسته اعمالو او اخلاقو متصف وي نو صوفیایې کرام دې ته د نفس فنا وایي.

Scanned by CamScanner

همدې تفسیر مظهري په صفحه ۳۹ جلد ۵ کې لیکلي دي:

«فان الایمان محله القلب و کمال الایمان ان یطمئن قلبه بذکر الله لا یغفل عنه ساعة ولا یلتفت الى غیره وروى ابوداؤد عن عمر ابن الخطاب رضى الله عنه قال، قال رسول الله صلى الله علیه وسلم ان من عباد الله لاناساً ما هم بانبیاء والشهداء یغبطهم الانبیاء والشهداء یوم القیامة بمکانهم من الله قالوا یا رسول الله صلى الله علیه وسلم یخبرنا من هم قال هم قوم تحابون بروح الله على غیر ارحام بینهم ولا اموال یتعاطونها فوالله وجوههم بنور الله وانهم على نور لا یخافون اذا خاف الناس ولا یحزنون اذا حزن الناس وقراء الا ان اولیاء الله الایة.»

دایمان محل زړه دی او کمال د ایمان هله حاصلېږي چې زړه ددې ولي د الله تعالی په ذکر مطمئن شي او یو ساعت هم غافله او بل شي ته متوجه نه شي رسول علیه السلام فرمایلي دي چې د الله تعالی ځینې بندګان شته چې انبیاء او شهدا نه دي لیکن انبیاء او شهدا به د دوی په مقام چې خدای ورکړی غبطې کوي. صحابه کرامو رضی الله عنهم وویل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا څوک دي هغه وفرمایل چې د خدای لپاره به محبتونه کوي بې د خپلولۍ او مالي تعلقاتو ته به یو د بل سره زما دې په خدای قسم وي مخونه د دوی به نوراني وي او دوی به په نور کې وي دوی به نه وېرېږي. چې خلک وېرېږي او نه غمژن کېږي چې کله خلک غمژن وي.

«فصل في اسباب حصول الولایة، وهذه المرتبة على ولایة الله تعالى انما یستفاد بالانعکاس من رسول الله صلى الله علیه وسلم اما بلا واسطة او

بواسطة او بوسايط ولا بد فيه من كثرة المجالسة مع المحبة ولا لقياد با نبي صلى الله عليه وسلم او بمن ينوب به فانهما يثمران محبة الله تعالى و انباغ قلبه و قالبه و نفسه بصبغ قلب رسول الله صلى الله عليه وسلم و قالبه و نفسه الذي هو صبغة الله و من احسن من الله صبغة و كثرة الذكر على وجه مسنون يرتب بذلك الانعكاس لكونه موجبا لصقالة القلب المستوجب الانعكاس قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لكل شئ صقالة و صقالة القلب ذكر الله . رواه البيهقي،

فصل دی په بيان د اسبابو د حصول د ولايت ، دا مرتبه ډېره اوچته ده د خدای په دوستۍ کې دا د نبي عليه السلام دمينې مبارکې نه يا بلاواسطه يا په ډېرو واسطو سره منعکس کېږي يعنې د يو نه بل او د بل نه بل ته انعکاس پيدا کوي او په دې کې چاره نشته د ډېرو مجلسونو څخه خو سره د محبت او منقاد کېدلو نبي عليه السلام ته يا هغه چاته چې د هغه نيابت کوي نو دوی سره د محبت او انقياد ثمره د الله تعالی د محبت حصول دی او ددغه سره زړه قالب او نفس د نبي عليه السلام د قلب قالب او نفس په رنګ کې رنګ کېږي او هغه رنګ چې هغه د الله تعالی رنګ ددی او د چا رنګ د الله تعالی د رنګ نه ښه دی ، او کثرت د ذکر په مسنون طريقې سره تائيد ددغې انعکاس کوي ځکه سبب د پاکېدو د زړه ذکر دی او هغه زړه پاک وي نو د انعکاس قابل ګرځي لکه چې حديث کې دي چې هر شي د پاکېدو آله وي او د زړه د پاکېدلو آله ذکر دی همدا مضمون معارف القرآن کې صفحه ۱۷ کې شته.

Scanned by CamScanner

د معارف القرآن د سورت یونس ۱۷۰، ۱۷۱، ۱۷۲ کې دا جملې ذکر دي، بلکې د ولیتوب مینې او نزدېکت یوه بله درجه هم شته چې د الله تعالی د خاص بندګانو سره خاص ده، چې دې ته د مینې نږدېکت ویلی شي چاته چې دا نزدېکت حاصل وي هغوی ته اولیاءالله ویلی شي. د هغې حاصل دادی چې انسان زړه د الله تعالی په یاد کې دومره غرق وي چې په دې دنیا کې د هېچا مینه په ده نشي غالبیدای چا سره مینه کول د الله تعالی د رضا لپاره وي چا نه کرکه د الله تعالی د رضا لپاره وي او نتیجه یې داوي چې ظاهر باطن یې د الله تعالی د رضا لټولو کې مشغول اوسي او د هر داسې څیز نه پرهېز کوي چې د الله تعالی په نزد ناخوښه وي، ددې حالت نښه داده چې زیات وخت د الله تعالی په ذکر کې تیروي او همېشه لپاره فرمان بردار وي دا دوه صفتونه چې په چا کې وي هغه ته ولي الله ویلی شي د ولایت حاصلول په درې څیزونو سره کېدای شي.

اول دا چې څوک ولي الله سره زیات صحبت او ناسته پاسته لري.

دویم دا چې د هغه تابعداري وکړی شي. دریم دا چې د الله تعالی ذکر زیات کولی شي، وجه داده چې په زیات ذکر کولو سره د دزړه آینه صفا او روښانه شي چې د ولایت د نور عکس ځانته راښکلی شي.

المرء مع من احب الحدیث یعني هر څوک به هغه چا سره وي چې ورسره محبت کوي، دې نه معلومه شوه چې اولیاءالله سره محبت ساتل د ولایت حاصلول ذریعه ده.

رسول علیه السلام حضرت رزین ته وفرمایل چې زه درته د دین داسې اصول ښایم چې ورسره د دنیا او آخرت فلاح او کامیابي حاصلولی شي هغه دا دي د اهل ذکر صاحبانو مجلس او محبت لازماً اختیار کړه او په

Scanned by CamScanner

تنه‍ ـ ـه کې خپله ژبه د الله تعالی په ذکر خوځوه چاسره چې محبت کړي د الله تعالی لپاره یې کوه او چا نه چې نفرت کوې د الله تعالی لپاره یې یې کوه که هر څوک د حسد چشمې د سترګو نه لرې کړي نو وبه ګوري حضرت اخونزاده سیف الرحمن رحمة الله علیه او د هغوی اکثر مریدان د پورتنیو ذکر شویو صفاتو لرونکي دي۔

لهم للبشری فی الحیوٰة الدنیا، دې اولیاوو ته زیری دی په ژوند د دنیا کې

فالبشری فی الدنیا ما بشر الله سبحانه اولیاء بالکشف یعنی ارائی عالم المثال فی المنام والیقظة وهو المراد بالرؤیاء الصالحة حیث قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لم یبق من النبوة الا المبشرات قالوا وما المبشرات قال الرؤیا الصالحة رواه البخاري عن ابي هریرة وقال البغوي عن عبادة بن الصامت قال سالت رسول الله صلی الله علیه وسلم عن قوله تعالی لهم البشری فی الحیوٰة الدنیا قال هی رؤیا الصالحة یراها المرء او ترا له. وروی البغوي بسنده عن عبدالله بن الصامت قال قال ابو داؤد یا رسول الله صلی الله علیه وسلم الرجل یعمل لنفسه ویحبه الناس قال عاجل بشری المؤمن واخرج مسلم نحوه بلفظه ویحمده الناس. تفسیر مظهري، صفحه ۲۳ جلد د سورت یونس

د پاسني آیت په تفسیر کې مظهري لیکلي دي، چې دنیا کې زیری هغه دی هغه چې زیری ورکړي الله تعالی اولیاوو ته په کشف سره یعنې دا ولي یې وګوري په عالم مثال کې یا خوب کې یا په ویښه همدغه مراد د رؤیا صادقه نه دی هغه چې نبي علیه السلام فرمایلي دي چې د نبوت نه به څه پاتې نه شي مګر مبشرات هغوی وویل مبشرات څه دي ویې فرمایل رؤیا صادقه او د نبي علیه السلام نه

Scanned by CamScanner

پوښتنه شوې . د پاسني ذکر شوي آیت باره کې هغه فرمایلي دي. چې هغه ربښتیني خوبونه دي چې خپله سړی وکوري یا یې څوک ده ده په هکله وکوري بل روایت کې تري نه پوښتنه شوې چې یو سړی نیک عمل د ځان لپاره کوي خو خلک ورسره مینه کوي په بل روایت کې دي چې خلک یې صفت کوي نبي علیه السلام فرمایلي دي. چې دا عاجله بشری د مؤمن ده

تفسیر روح البیان په صفحه ۴۱ جلد ۴ کې د همدې آیت په تفسیر کې لیکلي دي

من البشری العاجلة اثناء الحسن والذکر الجمیل و محبة الناس هذا ما اختاره المولی ابو مسعود.

نیک صفتونه په ښایسته نوم یادېده او محبت د خلکو ته عاجله بشری وایي

